# هوپو تعلیمي کیسی

## سړی او ګیدړ

## کاغذي پاکټونو نانځکه







پر لاس د خلتی/ پاکټ راکاږلو سره، د نانځکې خوله وخوځوئ.

**مواد چې اړتیا به ورته ولرئ:**

غرمی ډوډئ اندازه کاغذي پاکټ، رنګه پنسلونه، کرایون (د موم رنګی)، مارکر، ثلیبښ، نښلوونکي خپروونکی، رنګه جوړښتي کاغذ یا کارتونه، سکاش ټیپ، کیچی، سټیپلر، د میزونو لپاره اخبار.

**اختیاري:** کاغذي دستمال، راتاوونکی کاغذ، د سودا پخوانئ خلتی، پایپونو پاکوونکي، تاوونکی، مری (مشکنی)، تنئ، د ټوټو چنډی، د ویښتو لپاره تارونه، پلاستیکي سترګی، او نور

۱. د کارت یا جوړښتي کاغذ د پاکټ/ خلتی رپانده کاغذ په اندازه پرې او د ګیدړ مخ پاسنئ برخه رسم یا رنګه کړئ. د سترګو او پوزی لپاره د جوړښتي کاغذ ټوټی رسامي یا ثلیبښ کړئ. مخ غوځ او له کاغذه یا پایپونو پاکوونکو څخه جوړ بریتونه پرې ورډېر کړئ.

۲. لاندینئ ژامه رسامي او غوڅه کړئ. سره ژبه پرې او ثلیبښ یې کړئ او لاندینئ ژامه د خلتی/ پاکټ رپانده کاغذ لاندی له قات سره ثلیبښ کړئ. د سر پاسنئ برخه د پاکټ/ خلتی رپانده کاغذ دپاسه ثلیبښ یا سټیپلر کړئ، پام مو وي چې خلته/ پاکټ بند ثلیبښ یا سټیپلر نه کړئ.

۳. له جوړښتي کاغذ، نورو نصواري خلتو/ پاکټونو یا سپکو کارت کاغذ څخه د پنجو او لکئ لپاره شکلونه پرې کړئ. لاندینئ پرانیستنی دننه پنجی ثلیبښ یا ټیپ کړئ. (بیا مو هم پام وي چې خلته/ پاکټ بنده ثلیبښ نه کړئ). څرنګه چې ګیدړ عموماً نصواري وي، تاسې پر لکئ او مخې څرمن سپین رنګ کارولی یا مالوچو غونډسکی ثلیبښولای شئ.



**د نانځکو ډرامی/ تیاتر نظرونه/ مفکوری**

- پر میز سرمیزي یا ټوټه واچوئ او زده کوونکي د میز لاندې کښیني او خپلې نانځکې د ټوټې له لاندې راباسي او غږیږي.
- (د برقي سامانونو کارتنونو په څېر) لوی کارتن مخ کې ثلور کنجه کړکئ ورکړئ، او "سټیج" دروازه شاته ورکړئ. یو یا دوه زده کوونکي په کارتن کې کینوئ تر څو خپله ډرامه/ تیاټر وړاندې کړي.
- یو بل ته مخامخ چوکئ کیږدئ، او له زده کوونکو وغواړئ مخامخ کیني او خپلې ډرامی اجرا کړي. دا نانځکی د ډرامی په مرکز یا زیرمه ځای کې وساتئ تر څو هر وخت چې اړتیا وي، لاسرسی ورته وشي.

د ورړ لپاره نانځکه په لپاره، راتلونکی پاڼه وګورئ.

سړی او ګیدړ د ادریس شاه لیکنه، د سالي مالام رسامي، ۲۰۰۲ کال چاپ حقوق

# د وړو لپاره



۴. کمیس او سینه پرې او یوځای یې ځلیبش کړئ. له خوښې سره سم یې رنګه یا سینګار کړئ. د سري ږیره پرې او د کمیس دپاسه له غاړی سره یې ځلیبش کړئ. سر ژبه پرې او د ږیرې دپاسه یې ځلیبش کړئ (تاسې ممکن وغواړئ چې د سینی لپاره اصل ټوټه یا پټ لرونکی مواد ږیری لپاره وکاروئ) د جامو شاته لاسونه او بوټان پرې او ونښلوئ. له وچیدو سره سم، جامی/ ږیره/ ژبه د خلتی/ پاکټ له مخی سره ځلیبش کړئ.

۵. د سري مخ پاسنۍ برخه د ګیډۍ غوندی پای ته ورسوئ، خو انسانی غوږونه، بریتونه او سر کالي پرې ورډېر کړئ. تاسې ممکن وغواړئ چې سر کالو سره ټوټه ورډېره کړئ. سر لکه د پاسني ۱ ګام په څېر ونښلوئ. نور مواد لکه بوجۍ، ځینې کاڼي، چرګ او نور رسامي او پرې کړئ. دا مواد د لوبی اړتیا ځایونو کې ځلیبیدای، ټیپ یا سنجاق کیدای شي.









نور لوبغاړي: د کیسې له نورو تورو رسم کړئ. عکسونه د کارتونو پر مخ ځلیبش او پرې یې کړئ. ټوټی د کاغذي خلتو رپانده کاغذ دپاسه ځلیبش کړئ.

لښتو نانځکی: رسامي، سینګار، او ځناور پرې کړئ. پنسلونه یا لښتی د پری شویو شاته ټیپ او حرکت لپاره یې وخوځوئ.

له استعمال وړاندی نانځکی وچیدو ته پرېږدئ. ځیني وخت د ټینګولو او ثبات لپاره لږ إضافي ځلیبښو یا سټپلر سنجاق ته اړتیا وي. ښه وخت ولرئ!